**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

سر تور ملنګ ۲۰۱۲/۰۹/۲۸

# د انتخاباتو ډرامه

په دی ورځو کی یو ځل بیا د انتخاباتو په باره کی خبری او بحثونه تاوده شوی دغه بحثونه هغه وخت نور هم ګرم شول چی د کرزی صاحب مرستیال او د نظار شورا مارشال داسی اندیښنی و ښودلی چی که د خارجی قواو له وتو وروسته آمنیتی وضعه خرابه شی نو بیا به د آزادو او شفافو انتخاباتو کول ګران کار وی. د دی خبری تر شا لوی پروګرام روان ده. مارشال دا خبره د یوه هدف لپاره کړی او په دی خبره کولو سره هغه غواړی خپل پلان ته لاره هواره کړی کله چی په ۲۰۰۱ کال کی د بن کنفرانس جوړ شو او هلته د د دولت مقامونه د یوه سهامی شرکت به شان جنګی ډلو ته د هغوی دوسلوال طاقت او آمریکایانو ته د ښه خدمت په اساس ورکړل شوو نو د نظار شورا ته په کی لویه برخه ورسیده د دی شرکت په سر کی کرزی صاحب وټاکل شو له همغی ورځی را په دی خوا بیا تر اوسه پوری د دولت ټولی پریکړی د نظار شورا په خوښه او لار ښونه سر ته رسیږی او کرزی صاحب یوازی د خپل مقام ساتنه کوی.

د دی کال په سر کی کرزی صاحب په یوه کنفرانس کی وویل چی په ۲۰۱۴ کال خارجی قواوی له افغانستان وځی او امنیتی چاری ټولی افغانانو ته سپارل کیږی نو ښه به دا وی چی انتخابات را مخ ته شی او په ۲۰۱۳ کال کی د خارجی قواوو په موجودیت کی سر ته ورسیږی چی زما په اند دا سمه خبره وه مګر سمدستی د انتخاباتو د کمسیون ټولواک ملا معنوی دا خبره رده کړه او د مطبوعاتو له لاری یی کرزی ته په تونده لهجه وویل چی (( هیچکس حق ندارد که تاریخ انتخابات را تغیر دهد)) البته معلومه خبره وه چی هدف از هیچکس کرزی وو او کرزی دا خبره کړی وه همدارنګه ډبل عبد الله او د نظار شورا نورو غړو هم دا خبره رد کړه نو کرزی هم لکه د تل په شان له خپلی خبری تیر شو.

په تیرو لسو کلونو کی د نظار د شورا واجب الاحترام غړی هم د دولت له ټولو امتیازاتو برخمن دی او د هری پریکړی وروستی خبره دوی کوی او هم آپوزسیون جوړه وی حتی د کرزی صاحب مرستیال د آپوزسیون غړی هم وی او د دولت پلانونه هم دوی ردوی. موږ او تاسی ولیدل چی د احمد ضیا مسعود د معاونیت په وخت کی په خپله احمد ضیا ، یونس قانونی، مارشال فهیم، ربانی اونورو ټولو مخالفه جبهه جوړه کړی وه مګرم کله چی بیا فهیم او ربانی ته امتیازات ور کړل شول نو بیا هغوی ظاهراً له جبهی ووتل ولی بیا یي هم اړیکی ساتلی اوسه هم ډبل عبدالله ، آمرالله صالح ، قانونی او نور ټول له فهیم سره نږدی اړیکی لری او په ټولو پریکړو کی شریک دی.

ددی لپاره چی خبره را نه اوږده نشی نو راځم د مارشال خبری ته چی هغه وایی چی که د خارجی قواوو له وتلو وروسته آمنیتی وضعه خرابه شی نو بیا به شفاف انتخابات ګران کار وی. و ختی چی د جمهور ریس مرستال دا خبری کوی چی ګویا د خارجی قواوو له وتلو وروسته د آمنیتی وضعی د خرابیدو امکان شته او دا هم امکان لری چی شفاف انتخابات ونشی نو د خوار ولس دی خدای مل شی ، ملی پانګوال او تجاران خو باید وډار شی او خپلی پانګی خارج ته انتقال کړی ځکه دا د جمهور ریس د اول مرستیال خبری او اندیښنی دی چی تر هر بل چا هغه ته د هیواد آمنیتی وضعه ښه معلومه ده کله چی هغه خلکو ته وایی چی د خارجی قواو له وتلو وروسته د هیواد د آمنیتی و ضعی د خرابیدو امکان شته نو خامخا به خلکو او ولس ته اندیښنی پیدا کیږی ګرچی آمنیتی وضعه همدا اوس هم خرابه ده د کابل نه بهر په شل کیلومتری کی لکه چهار آسیا ، کمپنی ، سروبی او نورو سیمو کی آمنیت نشته، لری ولایتونه خو لا پخوا د مخالیفینو تر کنترول لاندی دی. آیاپه کابل کی آمنیتی وضعه ښه ده؟ آو آیا په تیرو انتخاباتو کی چی د جمهوری ریاست او پار المان لپاره و شول انتخابات شفاف وو؟ او که په ربښتیا آمنیتی وضعه د خارجی قواوو په وتلو پوری آړه لری او د مارشال په خبره د انتخاباتو شفافیت تر سوال لاندی راځی نو بیا ولی دوی د کرزی خبره و نه منله او اوس هم لا و ختی ده انتخابات دی په ۲۰۱۳ کال کی وشی. ګرچی افغان ولس نور نه په انتخاباتو باور لری او نه به په کی اشتراک وکړی. ایا تیرو انتخاباتو د خلکو کوم مشکل حل کړ په هر ځلی انتخاباتو قریب نیم ملیارد ډالر مصرف و شو ولی آیا د خلکو رایو ته چا احترام و کړ؟ دجهوری ریاست په انتخاباتو کی په ملیونونو جعلی رایی استعمال شوی، د پارالمان انتخاباتو پایلی ټولو ولیدلی تر ۶۲ زیات و کیلان په



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سرای شهزاده او دوبی کی د رشوت په ورکولو کامیاب شول د کمسیون ټولواک چی هر څه غوښتل همغسی و شول نو آیا اوس به خلک په راتلونکو انتخاباتو باور وکړی او انتخابات به د خلکو کوم مشکل حل کړی. تر څو چی همدا اداره وی او همدا لوبغاړی انتخابات یوازی ډرامی دی او بس.

دلته د انتخاباتو د شفافیت خبره نه ده، او نه هم مارشال غواړی چی شفاف انتخابات وشی که چیری احیاناً دلته شفاف انتخابات وشی نو څوک به مارشال او کرزی صاحب ته رایه ورکړی.ولی مارشال چی کومه خبره کړی د هغه سره د شفافیت او د آزادو انتخاباتو خبره مطرح نه ده هغه اوس همدا خبری د دی لپاره کوی تر څو په خلکو ومنی چی د آمنیتی لحاظه نشی کولای انتخابات وشی نو بیابه دوی خپل منځ کی سر کښینی او داسی فیصله به وکړی چی لویه جرګه دی را وغوښتل شی. کله چی لویه جرګه را و غواړی نو دوی به بیا هلته همدا دلیل وړاندی کړی چی د امنیتی ستونزو له کبله انتخابات نشی کیدای نو لویه جرګه به فیصله و کړی چی فهیم او کرزی دی د آمنیت تر ښه کیدو پوری خپلی دندی ته ادامه ورکړی.

کله چی د دی کال په سر کی کرزی صاحب غوښتل چی انتخابات دی په ۲۰۱۳ کال کی وشی په هغه وخت کی کرزی نه غوښتل چی بیا ځان کاندید کړی او هلته فیصله داسی وه چی د کرزی ورور قیوم کرزی به کاندید شی فهیم او یا د هغه ورور به یی مرستیال وی ولی اوس فهیم بل چال را مخ ته کړی لکه چی وویل شول د آمنیتی ستونزو په لحاظ به انتخابات و ځندوی او دوی به خپلی بی اقتداره و اکمنی ته ادامه ورکړی .موږ باید په دی باور ولرو چی کرزی او فهیم به هیڅکله داسی انتخابات و نکړی چی دوی په هغه کی خپل قدرت له لاسه ورکړی.

زما لپاره خو آینده ډیره تیاره ښکاری او په دی عقیده یم چی که انتخابات وشی او یا و نشی د خارجی قواو له وتلو وروسته به یوځل بیا د ۱۳۷۱ کال پیښی را منځ ته شی او خدای نا خواسته دلته به د کورنی جګړی اور بل شی همدا په دولت کی موجوده واکمنان سر له اوسه خپل جنګی ماشینونه فعالوی زموږ اردو او آمنیتی ارګانونه ټول په جنګی ډلو پوری تړلی او په موجوده حالت کی هم ډیر قوماندانان د دولت په ځای د خپلو جنګی ډلو اوامر منی ځکه دلته قوماندانان هم د دولت د نورو ارګانونو په شان دقوم او ډلی په اساس ټاکل شوی دی.

زما په اند د اوسنیو واکدارانو په موجودیت کی د خیر، عدالت ، قانونیت او ولس ته د خدمت تمه کول به زموږ لویه اشتباه وی .

په در نښت


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ